مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علي‌خان محسود

۲۰۲۵/۰۴/۰۵

# ډاکتر کبیرستوری رایاد شو

ما ته ښه یاد دي چې د سردار محمد داؤد خان دحکومت په وخت کې د ډاکتر نجیب پلار اختر محمد کاکا په پیښور کې افغان وکیل تجار (کمرشل اتاشي) اود داؤد خان اعتباري سړی ؤ.
اختر محمد کاکا ډیر پوهه، هوښیاراودسوړ سوچ لرونکی انسان ؤ،مګر افغان کونسل جنرل شاه محمد دوست ،چې بیا وروسته د ببرک په وخت کې د بهرنیو(خارجه) چارو وزیر شوډیر چالاک او موقع شناس سړی ؤ
مونږ په ۱۹۷٤ عیسوي کال کې د خوشال خان بابا ورځ نمانځله نو له دوئ نه موغوښتنه وکړه چې افغان حکومت دې د خوشال بابا د پوهنیز (علمي) سمینار لپاره پوهان (عالمان) او د موسیقی لپاره میرمن قمرګله او استاد ناشناس راولیږي. افغان حکومت سمدستي عمل کړی ؤ، د پوهانو او عالمانو یو لویه ډله (وفد) ئي پیښور ته راولیږله چې مشري ئې باختري صیب کوله او په هنر مندانو کې میرمن قمرګله،استاد زاخیل او سپین بادام ؤ، چې ددوئ مشري زما په خیال دخدای بخښلي سیلاب ساپي په غاړه وه.
په دغه وخت کې د پښتنو ضد (مهاجرواو پنجابي) پروفیسرانو د انټلیجنس ادارو ته وویل چې پي ایس ایف (پښتون سټوډنټس فیډریشن) پاکستان ورانوي او پیښور په کولتوري توګه د لاهور پر ځای د کابل سره تړي، چې دغه د پښتونستان دجوړیدو لپاره اول قدم دی.
په دې شپو ورځو کې په لاهور کې اسلامي کنفرانس روان ؤ، د افغانستان د ډلې (وفد) مشري ښاغلي عبدالرحمن پژواک کوله چې په کنفرانس کې ئې د پښتونستان ربړه یاده کړې وه، نو بهټو ډیر زیات په قار(قهر) ؤچې د مصر ریس جمهور انور سادات ئې منځ کې شوی ؤ.
دغه کانفرانس ته ښاغلی قدافي هم راغلی ؤ نو د پښتنو ضد پروفیسرانو (مهاجرو او پنجابیانو) د بهټو حکومت ته دغه مشوره ورکړه چې د افغاني کولتوري برید (حملې) د مخنیوي بهترینه طریقه داده چې کرنیل قدافي پیښور پوهنتون (یونیورسیټی) ته راوستی شي.
مونږ په لومړی سرکې د قدافي د راتګ مخالفت وکړو، خو وروسته په دې راضي شولو چې قدافي به د افغانستان او سردار محمد داؤد خان په ضد هیڅ خبره نه کوي.
کله چې قدافي پیښور پوهنتون ته راغی نو په عربي کې ئي څه مات ګوډ تقریر وکړو، دومره بې نظمي وه چې هیڅ حد ئي نه وو. قدافي لاړو مګر د قمرګلې اثرات پاخه پاتي شول.
د خوشال بابا د پوهنیز (علمي) سمینار او کولتوري ماښامي نه پس مونږ د پاکستان حکومت له خوا د پوهنتون (یونیورسټی) په حدودو کی یوقسم نظر بند او د څارنې لاندې شولو.
په دې منځ کې اجمل خټک صیب یو لیک د زبیدي بي بي په نوم راکړو (زبیده بي بي د میرمن نسیم ولي خان مشره خور وه) او ویل ئی چې دغه لیک ډیر مهم دی دغه کار تاته سپارم .
زه د لنډي مودې لپاره د چڅوبي(تیراه) په لاره خیبر ته کوز شوم او په پټه افغانستان ته لاړم .«پدې لاره خوشال بابا هم تللی ؤ».
د ۱۹۷٤ عیسوي کال د جون په میاشت کې مې د افغانستان د جمهور ریس سردار محمد داؤد خان سره لیده کاته (ملاقات) وکړو او بیرته واپس راغلم ،څو ورځې پټ وم بیا په ۱۷ جولاي ۱۹۷٤ کال کې د پاکستان د حکومت له خوا ونیول شوم په هغه وخت کې زه د پیښور پوهنتون (یونیورسټی) لاکالج ، د خیبر سټوډنټس یونین مشر (صدر) وم،زما دنیول کیدو (ګرفتاری) غټه وجه دغه وه چې ما د پیښور په چوک یادګار کې په یوه غونډه کې د ډیورنډ لاین مخالفت کړی ؤ. افراسیاب خټک هم د پاکستان د حکومت نه پټ (انډر ګراونډ) شوی ؤ، مګر د سي ائی ډي والو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زمونږ ځایونه مالوم کړل او مونږ دواړه ئي ونیولواو د پښور مرکزي جیل ته ئی ور دننه کړو. ورچانی یاني د باندي پښتون سټودنټس فیډریشن پي ایس ایف مظاهري کولې.
په کال ۱۹۷۵ د جولائي په میاشت کې خلاص شوم او په پټه بیا افغانستان ته لاړم. له افغانستان نه په ۱٦ اپریل ۱۹۷٦ عیسوي کال کې لومړی تاشکند ته بیا ماسکو ته لاړم او له ماسکو نه په اورګاډي کې مغربي برلین ته راغلم.
زما د سفر لارښوونه ډاکټر شاه جهان چې نن سبا د پېښور پوهنتون (پشاور یونیورسټي) د ژورنالیزم ډیپارټمنټ مشر دی کوله.
په کال ۱۹۷٦ د مئ د میاشتي په لومړۍ نیټه مي رحیم ځدران، اروابناد قدوس تندر،رحمت ربي زیرکیار، نظام، انور ظفري او اروابناد کبیر جان لعل په فرانکفورت کې ولیدل «کبیر جان وروسته د لعل نه ستوری شو، لعل محمد خان یوسفزی ئي د والد صیب نوم ؤ».
په هغه وخت کې په لودیځ المان کې یوازي افغاني پوهیدوني(محصلین) ؤ او نور څوک نه ؤ.
دا افغاني پوهیدونکي (محصلین) په ځلورو ډلو ویشل شوي ؤ، د نورمحمد تره کي صیب ډله، د پرچمیانو ډله، دافغان ملت ډله او د ماویستانو ډله چې ماویستان تقریباً په سلو کې ۹۵ پارسي ژبي ؤ.
د تره کي صیب په ډله یاني خلق کې تقریباً ټول پښتانه ؤ
د پرچمیانو په ډله کې په سلو کې د ۱۵ نه تر ۲۰ پوري پښتانه او تقریباً په سلو کې ۳۰ هغه نسلي پښتانه و چې کولتوري او ژبني پارسیوانان شوي ؤ. په پرچم کې زیاتره د غوړو کورنیو هلکان او جنکی وي.
د افغان ملت ګوند لږ هلکان ؤ خو په خپلو کې سره وران ؤ، د پښتو متل دی چې وائي «د کونډې دوه غوایان و،یو غوجل ته ننوتو نه او هغه بل وتو نه»
او ډاکټر کبیر خان ستوری سوچه او نیغ پښتون ؤ.
کله چې د کوزي پښتونخوا پښتانه ډیریدل (سیواکیدل) نو په همغه اندازه د کبیر جان تله درنیدله.
په سیاسي لحاظ د کوزي خوا پښتانه د برې خوا پښتنو څخه مخکې ؤ، ځکه د برې خوا پښتنو محصلینو تیوري ګاني لوستي وې د اکتوبر انقلاب، لینن، طبقه او فیوډال نه به اخوا دیخوا کیدل نه او د کوزي خوا پښتنو عملي (پرکټیکل) او ټاکټیکي سیاست کړي او په سیاسي بحث کې پر دوئ برلاسي ؤ
د هغه وخت مطابق ځمونږ د غورځنګ دورچاني سیاست (باندیني یا خارجه سیاست) د شوروي اتحاد (سویټ یونین) د سیاست سره سمون خوړو نو مونږ به امریکه، مغرب او چین غندل ځکه چې برتانیه او امریکا ضد پښتون او د ډیورنډ کرښي په حق کې ؤ نو ځکه مونږ انټي امریکا وو،مګر په سیاسي لحاظ مونږ په ډیرګوندیزه پارلماني ډیموکراسی او په اقتصادي ډګر کې په ګډ اقتصاد باور درلود نو دغه منطق د برې خوا چپیانو لپاره ګران ؤ چې سر ئي پرې خلاص شي.
زمونږ ټول بحث او مباحثي به د ورولی په فضا او د سړیتوب په چوکاټ کې وي. دوی به ویل شوروي اتحاد ملي ګټو ته نه، بلکه نظریاتي ګټو ته اهمیت ورکوي. مونږ به ورته ویل چې دغسي نه ده د روسیانو په خوله طبقه ده مګر په عمل کې خپلي ګټي لري، خو چې روسته روسیانو کومي لوبي وکړې دوی بیا هله پوهه شول.
بلخوا پرچمیانو دغه درک کړې وه چې د بنه کمونسټ نه زیات د روسیانو ایجنټ کیدل ډیر معتبر دي نو همدغه وجه وه چې روستو خلقیانو وهل وخوړل.
په ۱۹۷٦ عیسوي کال کې مونږ د المان د فرانکفورت په ښار کې د پښتنو او بلوڅو د ازادی ملي غورځنګ جوړ کړ، چې د لري او برې پښتونخوا د هر سوچ پښتانه پکې ؤ.
کله چې په کال ۱۹۷۸ د اپریل په میاشت کې د خلق ډیموکراټیک ګوند په قدرت راغی نو خلقیانواو پرچمي په خپلو کې جنګ پیل کړ او لدې وروسته خلقیان د امین او تره کي په ډلو وویشل شول او بالاخره ئي د تره کي له منځه ویوړ او ورپسي روسیان راغلل.
د روسیانو د یرغل وروسته په ۱۹۸۱ عیسوي کال د فروری په ۲۷ مه نیټه مود ډاکټر کبیر خان ستوري تر مشرۍ لاندي د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند (پښتون سوشل ډیموکراټیک پارټي) جوړ کړ، چې لر او بر پښتانه پکې راټول او د ګوند غړي شول. مونږ ټولو په ګډه کبیر خان ستوری د ګوند مشر وټاکلو.
کبیر ستوری سوچه نظریاتي او سیاسي پښتون وو. په سیاسي نظریه دده د ټینګ دریدلو دوه وجې کیدای شي ، چې یو خو دا د کونړ ؤ او برید (سرحد) ته نزدې ؤ نو د پښتون قوم تقسیم ته ډیر متوجه ؤ په نسبت د هغه پښتنو نه چې برید نه لرې میشته ؤ او بله وجه دغه کیدای شي چې کبیر ستوری د ستر خان غازي میرزمان خان د لور له طرفه لمسی ؤ، غازي میرزمان خان د افغانستان د ازادۍ په وخت کې ستر رول لوبولی ؤ او د غازي امان الله خان خاص او اعتباري ملګری او د افغانستان د ازادی د ځلورمي جبهي قوماندان ؤ، کله چې د نادر خان کورنی ته واک ورکړل شو نو د ستر خان میرزمان خان کورنئ او خپلوان ئی فراریان (شړونکي) کړل.
محمد شیرین ګردیوال چې نن سبا زمونږ د ګوند لومړی مرستیال دی، هم اړخ بدل نه کړو او تر نن ورځې پوري خپل سیاسي نظرئی او د پښتنو یووالي ته وفادار او صادق پاتي شو نو دغه وجه کیدی شي چې دی هم برید (سرحد) ته نزدې د ننګرهار ولایت د ګردي غوث دی نو دی هم د پښتون قوم تقسیم ته ډیر متوجه ؤ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کبیر ستوری د زړه نه پاک، خوئ خصلت نه ډیر درون ؤ، هوښیارتوب به ئي هله در مالوم شو چې دده کړه وړه به دې له نږدې نه وڅارل. دهوکه، چل ول او درواغو نه پاک ؤ. هیڅا سره ئی بد نه کول، ډیر زیات زغم پکې ؤ. په لومړی نظر به ساده باده مالومیده، مګر دی د لنډ لید خاوند نه ؤ، بلکه د لرې لید خاوند ؤ. د بیلګې په توګه دده په مشوره اونظریه مو د ګوند خپروني ته د پښتونخوا نوم خوښ کړ او د پښتونخوا په نوم مو مجله پیل کړه، د کبیر ستوري له وفات نه رورسته د پښتونخوا سوبه (ولایت) په ربښتیا ونومولی شوه چې دغه دده د لرې لید دلیل دی.
کله چې روسیانو په افغانستان یرغل وکړ نو د المان د بن په ښار کې لومړنی مظاهره مونږ وکړه او د روسیانو د وتلو غوښتنه مو وکړه، د جرمني د ایف ډې پې ) (فري ډیموکریټیک پارټۍ) مشهور او وتلی سیاست مدار ښاغلی مولې مان چې هغه وخت کې هغه ځوان ؤ هم زمونږ په مظاهره (درب) کې ګډ ؤ.
مونږ په دې باور ؤچې روسیان به پوځي نه بلکه اقتصادي ماتې ضرور خوري.
پښتني/ افغاني جنګ هله ګرمیږي چې جنګ خلاص شي دا ځکه چې دوئ خوش باوره او صادقان خلک دي، چې څوک ورته په خوله څه ووائي په هغې باور کوي او رشتیا ورته مالومیږي، او چې خبر شي چې په ویلو او کولو (عمل ) کې فرق دی نو بیا ئي نه پریږدي.
کله چې په کال ۱۸۳۸ کې پیرنګیانو زمونږ په هیواد یرغل وکړ نو ویل ئي چې مونږ نور غرض نه لرو اونور جنګ نه کوو صرف اوصرف د احمدشاه بابا د کورنی غصب شوی حق د محمدزو نه اخلو. خو څه وخت چې پښتانه/افغانان خبر شول چې انګریزان (پیرنګیان) نوري منصوبې لري نو په ۱۸٤۲ عیسوي کال کې د پیرنګیانو څه حال شو.
کله چې شورویانو په افغانستان یرغل وکړ او ببرک کارمل ئي راوست نو روسیانو به هم دغه خبره کوله چې زمونږ نور غرض نه شته صرف د حفیظ الله امین د ظلم نه افغانان خلاصوو او خپل پوځونه بیرته وباسو.
په حقیقت کې ببرک کارمل یرغمل ؤ او هغه د چا خبره د روسیانو له اجازې پرته تشناب (ټټۍ) وی سی ته تللی نه شو.
زه نن د کبیر ستوري په یاد په دې لیکنه کې په ډاګه وایم چې مونږ پدې پوره یقین او باور لرو چې د افغانستان ربړه صرف او صرف افغانان حل کولی شي.
پښتون ملت په افغانستان کې ستر ډیره کی دی، تر څو پورې چې د پښتنو حقوق غصب او خوړل کیږي تر هغې پورې په افغانستان او سیمه کې امن او ټیکاو (سټیبیلیټي) نه شي راتللی.
روسیانو کوښښ وکړ چې اقلیت په اکثریت سپور(سور) کړي بریالي نه شول. امریکایان هم په دغه لار روان وو ، دوئ به هم ناکام وي، ځکه چې پښتون ولس د افغانستان بنسټ اینسودونکی ملت دی. د پښتون ملت په مټ د افغانستان عمارت ولاړ دی او چې هر څوک دغه مټه لرې کول غواړي نو ټول تعمیر ړنګیږي.
مونږ پښتنو ته پکار دی چې ځان او جهان وپیژنو، ٌ ځانونه منظم کړو، زده کړې (تعلیم)، کسب او سوداګرئ (تجارت) ته مخه کړو، خپله ژبه کولتور، دود او دستور وژغورو، تر څو دداخلي دښمنانو نه خلاص شو.
په روستو پاتې هیوادونوکې ضروري نه ده چې غیر منظم اکثریت دی حکومت وکړي، اکثره اقلیت مګر منظم اقلیتونه حکومت کوي، دوئ د خپل تعلیم پوهي او سوداګرئ (تجارت) په زریعه او چل ول پوځي او سیول بیروکریسئ باندې خیټه اچوي او دغه راز خپله ژبه او کولتور په غیر منظم اکثریت باندې سورِوي، لکه په افغانستان کې غیر منظم اکثریت پښتانه د ورکوټي مګر منظم اقلیت تاجکانو نه په اور کې ولاړ دي.
ژبه دده، ښه نوکري دده، او د خپلې پارسي ژبې د تعلیم په وسیله ئي پښتانه ذهني وینځلي دی.
همدغه حال په پاکستان کې ؤ چې په سلو کې ۸ هندوستاني اردو ژبې مهاجرو په ټول پاکستان اردو ژبه منلي ده.
همدا حال په مالیزیا(ملایشیا) او سري لانکا کې هم ؤ مګر هلته اکثریت را ویښ شواو اقلیتونه ئی ددې ناجائزې شوکې نه وشړل.
نن سبا ژبه سیاست دی، نوکري ده اقتصاد دی، نو ځکه په افغانستان کې ضد پښتون پارسیوانان د پښتو ژبې دښمنان دي، دوئ ته مالومه ده چې که پارسي دفتري ژبه او معتبره وي دوئ هم معتبر دي او که پښتو ژبه دفتري او معتبره شوه نو پښتون چې اکثریت دی معتبر کیږي.
په حقیقت کې ضد پښتون قوتونه غواړي چې پښتانه بې علمه پاتې شي. پښتون به شپون وی چې غوا لنګه شي کوچ، پیروي او شیدې دوئ خوری، پښتنو ته تروې هم نه ورکوي.
ضد پښتون پارسیوانان پښتانه په دې ډاروي چې افغانستان به مات شي دغه کار د حقیقت نه ډیر لرې دی ځکه چې افغانستان د چا نه خاوره نه ده قبضه کړی چې بیرته به واخلي، بلکه د افغانستان نه خاوره قبضه شوې ده.
د افغانستان ماتیدل او ټوټه کیدل هیڅ امکان نه لري، او که چیري فرض کړو چې افغانستان مات شو نو په حقیقت کې به دوئ په تاوان کې وي.
که پښتانه یو ځای شي نو یو د پېښور بودیجه (بجټ) د نني ټول افغانستا نه زیات دی، مونږ حاصل خیزه ځمکې لرو اوبه لرو، معدنیات لرو، کټواز کې تیل لرو، کوهاټ کې تیل او ګیس لرو، دبلوچستان په پښتون میشتو سیمو کې ډیر معدنیات لرو او دغه راز په بیلا بیلو برخو کې دځمکې لاندې ډیرې خزانې لرو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ازبک، هزاره او تاجک به په خپلو کې داسي جنګونه پیل کړي او بې چې دغه غیر منظم اکثریت پښتون منظم نه شي او د دوی مزې چرچې ورانې نه شي.
حق په سوال نه اخستل کیږي، لراوبر پښتانه باید ویښ اومنظم شي خپل حق په زور واخلي تر څو د ضد پښتون پارسیوانانو او پنجابیانو نه د تل لپاره ځانونه خلاص کړو او که داسي ونه شي نو پښتون به تل د مذهب په نوم غولیږي، دغه نور به مزې او چړچې کوي.
د پښتو متل دی چې « چې څوک نن سپک شي، سبا بیا ورک شي». مونږ لر او بر پښتانه ددې پروسیس سره مخامخ یو
د پښتون ملت ځوان نسل چې د ۲۰ کلنی نه تر ٤۰ کلنی په منځ کې دي باید بیدار شي د ژبني، اقتصادي، کولتوري او سیاسي واک لپاره منظمه او کوټلې مبارزه پیل کړي او دسیاسي مذهب او روحاني مذهب تر منځ فرق وکړي، زمونږ کمزوري هم دغه ده چې په سیاسي اسلام او روحاني اسلام کې فرق نه شو کولی.
زمونږ ګوند (د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند) ئي د پښتون ملت نوې نسل ته په ګوته کوي چې زمونږ نوې نسل د خپل کور یانې د لوې افغانستان واکمن شي.
انګریزان وائی چې «نو یا نیور» خوشال خان بابا وائی چې « بله هیڅ لیدلی نه شي په دې منځ کې، یا مغل د منځه ورک یا پښتون خوار»
د پښتنو لپاره بله لاره پاتې نه ده «لا به یو کیږو ګنې ورکیږو».

د ډاکتر کبیر ستوري د اروا په درنښت
تاریخپوه ایډوکېټ علي خان محسود (مسېد)
د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند مشر
-اوپرتال ،جرمني -


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ